AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۰/۱۲/۰۴

# کاکا مورا سلام!

یو کال شو، چې ته یې رابانډي ووژلې.

یو کال شو، چې موږ له خپل ځپاند سینډ څخه هماغومره اوبه څښو، چې تا راته رابېلې کړې وې.

نورې نه شته...

چې ته تللی یې، موږ ستا د جوړې کړې ویالي هومره نورې وینې بهولې دي...

خو یوغوړپ اوبو رابهولو ته مو ملا لا هم ماته ده...

تا ته زموږ دغه یو پېژاند لا نه و در معلوم؟

هغه ولس، چې د خپلو ماشومانو او ښځو وینې د دې لپاره بهوي، چې د دوښمن کور ته یې وړیا اوبه وروبهیږي.

هغه خلک، چې په قاموس کې یې د اوربند مانا بېغیرتي او کفر لیکلې ده!

**ته په سوله کې آرام پرېوځه!**




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ